# ډاکټرصاحب

ليکوال عمرننګيار-مسکو

ځوکاله مې نه وُ ليدلی،پته يي رانه ورکه وه خودومره پوهيدم چې زموږ په ځيربه چيرته مهاجرشوی‌وی.غر په غرنه ورځی خوبنيادم په بنيادم يوورځ نه يوه ورځ ورځی،نوځکه مې يوه ورځ نابېره انورشاه خپل کوم انډيوال سره په مخه راغی سره غاړه وتو ښه تودروغبړموسره وکړبيايي خپل انډيوال راوپيژند-
ډاکټرصاحب....
اوبياهغه ته يي زه ورو‌پيژندم:
ډاکټرصاحب....
زه حيران پاتي شوم دځانه سره مې وويل ځه هغه خوبه ډاکټروي نوماته دی خيروي،زه بياڅنګه ډاکټرشوم؟زه په همدی چرت کې تللی وم چې انورشاه دانډيوال غږبيرته ځان ته راستون کړم ډاکټر صاحب ډيرزيات خوښ شوم چې تاسی سره مې وپيژندل بيابه سره خامخاګوروخدای په امان.
بيايي په انورشاه غږوکړ:
ډاکترصاحب انورشاه!ډاکټرصاحب سره وغږيږه چې کله به سره کينو.
انورشه ځواب ورکړ:
ښه ده ډاکټرصاحب بيابه احوال درکړم.
ډاکټرصاحب لاړ اومونږډاکټران سره پاتي شوديوبل احوال نه موځان خبرکړپه همدی کې وُ چې محمدګل هلته په وطن کې داستخدام دشعبي ملازم سره موولیدل همداچې سترګی يي په ماولګيدلې راستون شوپه ډيره مينه يي روغبړراسره وکړ،ظاهرې داسې ښکاريده چې ژونديي غوړاوګامونه يي درانده دي انورشاه چې مسکی مسکی کيده رانه يي تپوس وکړ:
-ډاکټرصاحب محمدګل پيژنی؟!
ماپه قراره وويل ډاکټرصاحب محمدګل؟!
محمدګل زما په حيرانتيا وپوهيده ژرييي خبره خپله کړه اوويیلي:
صاحبه دلته دارواج دی،خيرخوښ شوم چې ومې ليدي بيابه دخيره سره وګورو،دامې ويزيت کارت دخدای په امان.
ويزيت کارت ته مي نظرواچوه ومې لوستل ډاکټرمحمد ګل.....چرت کې لاړم دانورشاه غږمې دچرت لړی راوشلوله:
څنګه چرت کې لاړې؟!
ځواب مې ورکړ:
هسی،داچرت مې وهه چې دلته دډاکټرنه ښکته هم ځوك شته؟!هغه راته په سړه سينه ځواب راکړ:

ګرانه پدې متمدن وطن کې څوك دډاکټرنه ښکته نه پاتې کيږي څوك په تاوان اوڅوك بياخوشې وړياډاکټرکيږي.
ماورنه بياتپوس وکړ:
-نوبيايي خوشي څنګه؟!
کټ کټ په خنداشواوبيايي وويل:
نه دي دې اوريدلې چې ويل شوي ته ماته لالاووايه زه به تاته ګل لالا هغه دی دواړه به شولالا.
بيايي خپلوخبروته دوام ورکړ:

- انډيواله دلته څوك دچادډاکټرى دسندپوښتنه نه کوي ځکه داصلې اونقلې ډاکټرانوپيژندل ګران کاردي،دې خبروپسي مه ګرځه که غواړې ډاکټرشې هرڅوك دى چې په مخه راغى ورته ډاکټرصاحب وايه هغه بياخامخاتاته ډاکټروايي،هغه دي چې چاپيريال کې نوريادېږي په ډاکټر.

ورته ومې ويل:
بس وپوهيدم ډاکټرصاحب.
هغه په ځواب کې راته وويل:

- ډيرښه ډاکټرصاحب زه درنه لاړم خامخابه سره ګورودخداى په امان.
- خداى په امان ډاکټرصاحب.
-

- پاي